بسم الله الرحمن الرحیم

د غیر بانکي مالي مؤسسو د څارنې لوی آمریت

آمریت عمومی نظارت از مؤسسات مالی غیر بانکی

د افغانستان بانک

گڼه: ۸۵۲۶۲ – ۸۵۹۲ ۱۱۳۵۱

نېټه: ۱۴۴۶/۰۹/۲۴ ۱۴۰۴/۱/۶

**د وړو تمویلونو محترمو مالي مؤسسو ته!**

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته وبعد:

**ماهیت: متحدالمال**

**موضوع: د مقررې د ځینو مواردو په یلې کولو کې آسانتیاوې**

له درنښت وروسته؛

د ۴۵۵ ګڼې ۱۴۴۶/۰۹/۱۸ نېټې تصویب په اساس، ستاسو د غوښتنې سره سم د وړو مالي تمویلونو مؤسسو د تنظیم او څارنې مقررې د (یو دیرشمې مادې څلورمه فقره او د اته دیرشمې مادې د پنځمې فقرې) د تطبیق په مؤخه لاندې آسانتیاوې د افغانستان بانک لخوا تایید دي.

۱. **الکترونیکي پیژند پاڼه:** هغه پیردونکي چې د بریښنایي پیژند پاڼې د ترلاسه کولو لپاره یې طی مراحل کړی وي او په پام کې وي چې تذکره یې په راتلونکي کې ویشل کیږي، د وړو تمویلونو مؤسسې کولای شي چې د تذکرې د ترلاسه کولو فورم او نورو اړونده اړین اسنادو په اساس ورته تمویل ورکړي او موضوع دې د پیرودنکي سره تعقیب شي چې د تذکرې په ترلاسه کولو سره، یوه کاپي ورڅخه واخیستل شي او د نوموړي په دوسیه کې دې وساتل شي.

۲. **د یو شخص لخوا د څو مشتریانو تضمین کول:** هغه جواز لرونکي شرکتونه چې لازم مالي امکانات او توان ولري؛ کولای شي د دریو پیریدونکو چې د درېواړو ټولیز تمویل د یو نیم میلیون افغانیو څخه زیات نه وي؛ د تمویلونو تضمین یې وکړي.

۳. **د تمویل اعظمي حد:** د وړو تمویلونو مؤسسې اړ دي چې د یادې مقررې د یو دېرشمې مادې لومړۍ فقرې مطابق اجرآت تر سره کړي، د افغانستان بانک په پام کې لري چې د کوچنیو او متوسطو تمویلونو (SME) لپاره لازمه مقرره چمتو کړي.

موضوع په بوره توګه د وړو تمویلونو ورکړې په موخه تاسو ته ولیکل شوه، په اړه یې لازم اجرآت ترسره کړي.

د افغانستان بانک د وخت څخه په ګټې اخیستنې، ستاسو د لا زیاتو بریاوو غوښتونکی دی.

په درنښت

۱۴۴۶/۹/۲۴

صدیق الله خالد

د افغانستان بانک لومړی مرستیال

کاپي: د بانکي څارنې او مالي خدمتونو آمریت ته (بانکونو سره د موضوع شریکول).

د افغانستان بانک، ابن سیناوات، کابل افغانستان/ تیلیفون۲۱۰۴۷۶۱ (۲۰) ۰۰۹۳ / ایمیل: @dab.gov.af
ټولنیزې شبکې فیسبوک - د افغانستان بانک / تویټر - @AFGCentralbank / انستاګرام .